UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه

UNITED NATIONS
ASSISTANCE MISSION IN
AFGHANISTAN

د ماشومانو داصلاح او روزنې د مرکزونو(دارالتادیبونو) په اړه د یوناما ارزونې په دغو مرکزونو کې د وضیعت ښه والی ښیي اود لانورې بهترۍ اړتیا ته اشاره کوي.

کابل، د ۲۰۱۶ کال د دسمبر۴ مه - د ملګرو ملتونو یو نوی رپوټ چې نن خپور شود افغانستان د دارلاتادیبونوپه وضیعت کې د پام وړ ښه والی ښیي. دغه رپوټ ترنظارت لاندې تنکیو ځوانانو لپاره د اصلاح په دغو مرکزونو د ښوونې او روزنې په ښه والي او له خوشې کیدو وروسته د دغو افغان زلمیانو د پیاوړتیا ځارنې ته د جدي پام په اړتیا ټینګارکوي.

د دارالتادیبونو د وضیعت په اړه په افغانستان کې د ملګروملتونو مرستندویه پلاوي یوناما لخوا دغه ترسره شوې پراخه څیړنه وړاندیز کوي، چې افغان حکومت باید دغو مرکزونو ته ځانګړی پام او له ټولنې سره ښیرته ددغو افغان زلمیانو په یوځای کیدو تمرکز وکړي.

د یوناما د قانون د حاکمیت د برخې مشر مایکل هارتمن وویل: "زموږ څیړنه ښیي، چې د دارالتادیبونو د اړتیاوو د پوره کولو په برخه کې د حکومت په هڅو کې ښه والی راغلی دی. خو لا هم د افغانستان د عدلیې او ښوونې او روزنې وزارتونه دغلته د اوسیدو د وضیعت د ښه والي، د دغو زلمیانو د پیاوړتیا اوله ټولنې سره د بیرته یو ځای کیدو د پروګرامونو په برخه کې نړیوالو مرستو ته اړتیا لري. "

په ټوله کې د یوناما څیړنه ښیي چې، د لږ تر لږه منل شویو نړیوالو معیارونو په برخه کې افغانستان پرمختګ کړیدی. خو له دې سره سره، څیړنه ښیي، چې دغه رامنځ ته شوی ښه والی په ټولومرکزونو کې همغږی او یو شان نه دی. په هغو دارالتادیبونو کې چې د عدلیې وزارت لخوا نه دي جوړ شوي له ورایه نیمګړتیا او اړتیا ښکاري.

یوناما د افغانستان د عدلیې وزارت دغوښتنې پر بنسټ، د دارالتادیبونو ارزونه پیل کړه، چې موخه یې په دغو مرکزونو کې د ساتل کیدونکو تنکیو زلمیانو ساتنې ته کتنه ده، چې په نړیوالو قوانینو او د تنکیو زلمیانو د ساتنې او سلب ازادۍ په اړه د ملګرو ملتونوپه مقرراتو کې په پام کې نیول شویدي، او د (هاوانا مقررات) بلل کیږي.

د دارالتادیبونو د وضیعت د ښه والي او په کې د تنکیو ځوانانو د ساتل کیدو په اړه مهمې سپارښتنې د یوناما په رپوټ کې کتلی شئ، چې د یوناما پر ویب پاڼه د لاس رسي وړ دي: https://unama.unmissions.org/juvenile-rehabilitation

* * *

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) ماموریت، د افغان حکومت او افغانانو ملاتړ دی او د بوه سیاسي ماموریت په توګه د نورو مهمو خدمتونو ترڅنګ د ښه نیت چاري وړاندې کوي. "د ښه نیت چاري" هغه دیپلماتیک ګامونه دي، چې ملګري ملتونه یې په عام او شخصي دول دخپل استقلالیت، بې پرې توب او امانت داري د ترسیمولو لپاره پورته کوي، چې د نړیوالو شخړو د پراختیا، خپریدا اوزیاتیدا مخه ونیسي. یوناما د سولې او پخلاینې له بهیرونو سره مرسته کوي؛ په وسله والو شخړو کې د ولسي وګړو د خوندیتوب په ګډون د بشري حقونو ځارنه او ملاتړ کوي؛ ښې حکومتوالی ته وده ورکوي او سیمه ییزه همکاري راجلبوي. یوناما همدارنګه د همغږي پرمختیا ملاتړ کوي، چې د نړیوالې ټولنې لخوا یې ملاتړ کیږي.